هفته واره رساله

# د خُلې صفا
# کولو فائدې



- خلال څنګه ښکار وي؟
- د خلال طِبّي حکمتونه
- چې کله مسواک د استعمال قابل پاتې نهٔ شي
- د غاښونو د حفاظت 4 مدني ګلونه


شیخ طریقت امیرِ اهلِ سُنّت حضرتِ علامه مولانا ابو بِلال

**محمد اِلیاس عطّار قادري رَضَوِي**

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

دا مضمون د اميرِ اهلِ سُنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د کتاب ”فيضانِ سُنّت“ صفحه 285 تا 301 نه اخستے شوے دے

# د خُلې د صفائې فائدے

دُعائے عطار: ياربَّ المُصطفیٰ! څوک چې دا رساله ”د خُلې د صفائې فائدے“ ولولي يا واوري د هغهٔ ظاهر او باطن پاک کړې او سره د مور او پلار يې جنت ته بے حسابه داخليدل نصيب کړې. اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د درود شريف فضيلت

د آخرى نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دے: اے خلقو! بيشکه په ورځ د قيامت به د هغې د ويرو او حساب کتاب نه زر خلاصے موندونکے هغه کس وي چا چې په تاسو کښې په ما باندې په دُنيا کښې ډير درود وئيلي وي. (مسندفردوس، 277/5، حديث:8175)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## خِلال

د **خوراک** کولو نه پس په غاښو کې وغيره خِلال کول سُنَّت دي. بعضې اسلامي وروڼه د خِلال دپاره د وور بَلَوَلو د تِيلي نه بارُود اورژوي، داسې نه دي کول پکار ځکه چې داسې بارود ضائِع کيږي. په بل څه دکې دي خِلال وکړے شي، د خِلال په اَهَمِّيَّت باندې اَحادِيثِ مُبارکه راغلي دي. چنانچه حضرتِ سيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: ”څوک چې خوراک وکړي (او په غاښونو کښې يې څه

اوخښلي) هغه که په خِلال اوباسي نو تُوک دې يـې کړي او که په ژبه يـې را اوباسي نو تير دې يـې کړي. چا چې داسې وکړو ښه يـې وکړو او [که داسې يـې] اُونکړو نو هُم باک نشته.'' (اَبُوداؤدشريف ج۱ص۴۶حديث۳۵)

## کراماً کاتِبين او خِلال نه کوونکي

حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو اَيُّوب اَنصاري رضی اللہ عنہ فرمائي چې حُضُورِ انور صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم زمونږه خوا ته تشريف راوړو او ويـې فرمائيل: خِلال کوونکي ثومره ښه دي.'' صحابهٔ کرامو علیہم الرضوان عرض وکړو: يا رسولَ الله صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم! د څه خِلال کوونکي؟ ويـې فرمائيل:''په اودس کښې خِلال کوونکي او د **خوراک** نه پس خِلال کوونکي. د اودس خِلال خُله وِينځل، په پوزه کښې اوبه اچول او د ګوتو په مينځ کښې (خِلال کول) دي او د خوراک خِلال د خوراک نه پس دے او په کراماً کاتِبين (يعني اعمال ليکلو والا دواړو بُزرګو فرښتو) باندې د دې نه زياته بله يوه خبره سخته نه وي چې هغه په کوم کس باندې مقررې دي هغه په دې حال کښې په نمانځه کولو وه وينې چې د هغه د غاښونو په مينځ کښې څه څيز وي.'' (طبرانی کبیر،ج۴،ص۱۷۷،حديث۴۰۶۱)

## پان خوړلو والا دې توَجُّه وکړي

اعلٰی حضرت اِمام احمد رضا خان رحمۃُ اللہ علیہ فرمائي، د پان ډير زيات عادت لرونکي خاص طور چې کله د غاښونو چاوونه جُدا جُدا وي دا تجربه لري چې د چالِيه نرئ نرئ ذرّې او د پان ډيرې وړې وړې ټکړې د خُلې په غاړو او ګوټونو کښې داسې اوښخلي چې درې ځله څه کله کله لس ځله خُله وِينځل هُم د هغې د مُکمَّلې صفائي د پاره کافي نه وي، هغه نه په خِلال کولو راوځي او نه په مِسواک کولو، سِوا په خُله کښې د اوبو

اچولو [او اوبو له د حرکت ورکولو] نه څکه چې اوبه په چاوونو کښې داخِلې شي او په خُله کښې خوزولو سره [په چاوونو کښې اُوځي او را اُوځي او] ورې ورې ذرّے په قلاره ځان سره راخلاصوي، د دې هُم څه حد نه شي مقرّريدے او دا مکمَّله صفائي هم مُؤَکد ده (يعني د دې سخت تاکيد دے) په ډېرو حديثونو کښې ارشاد شوے دے چې بنده کله په نمانځه ودريږي، فرښته د هغه په خُله باندې خپله خُله کيږدي دا چې څه لوَلي،د ده د خُلې نه اُوځي او د فرښتے خُلې ته داخِليږي، په هغه وخت که د خوراک څه څيز د هغه په خُله کښې وي نو فرښتو ته د هغې نه دومره سخت تکليف رسيږي چې داسې تکليف هغوئي ته د بل څه نه، نه رسي. حُضُورِ اکرم صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم فرمائيلي دي: چې کله په تاسو کښې څوک د شپې په نمانځه اودريږي نو پکار ده چې مِسواک وکړي څکه چې کله هغه په خپل نمانځه کښې قِراءَت کوي نو فرښته خپله خُله د هغه په خُله باندې کيږدي او څه څيز چې د ده د خُلې نه اُوځي هغه د فرښتے په خُله کښې داخليږي. (کنزُ العُمّال ج۹ ص۳۱۹)

او طَبَراني په کبِير کښې د حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو اَيُّوب اَنصاري رضی اللہ عنہ نه رِوايت کړے دے چې په دواړو فرښتو باندې د دې نه زيات يو څيز سخت نه وي چې هغوئي خپل ملګرے په نمانځه کولو وه وِيني او د هغه په غاښونو کښې د خوراک ذرّے نخښتې وي. (مُعجَمُ الکبِير ج٤ ص١٧٧. فَتَاوٰی رَضَوِيّه جِلد اَوّل. ص٦٢٤ نه ٦٢٥ رضا فاؤنڈيشن مرکزُ الاولياء لاهور)

## د غاښونو کمزوري

**حضرتِ** سَيِّدُنا اِبنِ عُمر رضی اللہ عنہما فرمائي: "کوم خوراک (د غوښې تِيلئ وغيره) چې په غاښونو کښې پاتې شي هغه غاښونه کمزوري کوي." (مَجمَعُ الزَّوَائِد ج٥ ص٣٢ حديث٧٩٥٢)

## خِلال څنګه پکار دے؟

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! چې کله هم څه اوخورئ نو د **خِلال** عادت جوړول پکار دي. بهتره دا ده چې **خِلال** د شنډئ د ډکې وي ځکه چې د دې په تريخ والي د خُلې صفائي کيږي او دا د ورو د پاره فائِده مند وي، بازاري TOOTH PICK [يعني د غاښونو تِيلي] عام طور پيرِ او کمزوري وي. د کوپرې د تِيلو [يعني ډکو] د غير اِستعمال شوې جارو د يوې تِيلئ يا د مَيزري د پزَکي [پوزي] د يوې پتې نه د بليډ په ذريعه ډير شے مضبوط د **خِلال** ډکې جوړيدے شي. کله کله د جامنې د غاښونو په چاوونو کښې د غوښې تِيلئ وغيره داسې اونخښلي چې هغه په ډکې وغيره نه راوځي. داسې تِيلئ راوِيستلو د پاره په ميډيکل ستور کښې د خاص قِسم تارونه (flossers) ميلاويږي او د آپريشن د سامان په دُکان کښې د غاښونو [د ګرَوَلو] د ستيل پترے (curved sickle scaler) هم پيدا کيږي خو د دې خيزونو د استعمال طريقه زده کول ډير ضروري دي ګني ورئ زخمي کيدے شي.

## د خِلال اووه نِيّتونه

په **حديثِ** پاک کښې دي، د **الله** پاک د خوږ **محبوب** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عظِيمُ الشَّان دے: "**د مسلمان نِيَّت د هغه د عمل نه بهتر دے.**" (طَبَرانی معجم کبیر ج۶ ص۱۸۵ حديث ۵۹۴۲)

**خِلال** شروع کولو نه مخکښې بلکې د خوراک شروع کولو نه مخکښې دا نِيّتونه کوئ او د ثواب خزانه حاصِلوئ. ﴿۱﴾ د خوراک نه پس به د **خِلال** سُنَّت ادا کووم ﴿۲﴾ **خِلال** شروع کولو نه به مخکښې **بِسْمِ الله** لوَلم ﴿۳﴾ د مِسواک کولو د پاره به مدد [يعني آساني] حاصلووم (ځکه چې د غاښونو په چاوونو کښې نخښتې د خوراک ذرّے چې کله سخا شي نو ورئ کمزورې او خرابې شي، وِينې ترې بهيږي او بيا مِسواک کول مُشکل شي) ﴿٤﴾ په اوداسه کښې به

د خُلې صحيح پاکولو د پاره مدد حاصلووم (د خُلې دننه په هره پُرزه او د غاښونو په چاوونو باندې اوبه بهيول، داسې درې ځله خُله وِينځل په اوداسه کښې سُنَّتِ مُؤَکده دي او په غُسل کښې يو ځل داسې خُله وِينځل فرض او درې ځله سُنَّت دي) ﴿۵﴾ غاښونه د مَرَضونو نه بچ کولو په ذريعه به د عِبادت د پاره قُوَّت حاصلووم (ځکه چې د خِلال کولو په ذريعه د خوراک ذرّے اوځي او دغسې ورئ د بيمارو نه بچ کيږي، او د ښه صِحَّت په ذريعه د عبادت د پاره قُوَّت حاصليږي) ﴿۶﴾ جُمات ته خپل داخِليدل بحال ساتلو د پاره به د خُلې پاکولو په ذريعه مدد حاصلووم (ښکاره خبره ده چې د خوراک ذرَّات په غاښونو کښې نخښتي وي نو هغه به سخا او بدبوداره شي، او چې په خُله کښې بدبوئي وي نو جُمات ته داخليدل حرام دي) ﴿۷﴾ فرښتو ته تڪليف ورکولو نه به ځان بچ کووم (په خُله کښې چې د خوراک ذرّے نخښتي وي نو په [داسې حالت کښې په] نمانځه کښې په قرآن لوستلو فرښتو ته تڪليف رسيږي)

## د خُلې وِينځلو طريقه

په **اوداسه** کښې داسې خُله وِينځل ضروري دي چې د خُلې هرې پُرزے او د غاښونو چاوونو وغيره ته اوبه ورسي. په اوداسه کښې داسې درې ځله خُله وِينځل **سُنَّتِ مُؤَکده** دي او په غُسل کښې يو ځل فرض او درې ځله سُنَّت دي. که روژه مو نه وي نو غرغره هم کوئ. د غوښې تِيلئ وغيره راوِيستل ضروري دي. خو که د غوښې څه تِيلئ يا د چاليه وغيره څه ذرّه بالکل نه راوځي نو بيا دومره سختي هم مه کوئ چې ورئ مو زخمي شي ځکه چې خوک مجبوره دے هغه معذوره دے.

## د خِلال طِبّي حِکمتونه

**زمونږه** خوږ خوږ آقا صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نن نه څوارلس سوه کاله نه زياته موده مخکښې د

ډیرو مَرَضونو نه د حِفاظت د پاره د خِلال اَهَمِّيَّت ښودلے وو. اوس څو صدئ پس سائنسدانان هم په دې پوهه شو. چنانچه د خِلال د حِکمتونو په باره کښې طِبِيبان [ډاکټران] داسې وائي چې "د خوراک نه پس د خوراک وغیره ذرّے د غاښونو او ورو د مینځه اونخښلي، که هغه د خِلال په ذریعه را وه نه وِیستلے شي نو هغه سخا کیږي او د هغې نه یوه خاص قِسم پلازمه جوړه شي، هغه ورئ پرسوي او د هغې نه پس غاښونه او ورئ د یو بل نه جُدا کوي او د دې په نتیجه کښې په قلاره قلاره غاښونه اُوځي، د خِلال نه کولو په وجه په غاښونو کښې د پائِریا (PHYORRHEA) [یعني د ورو د پړسیدو او د غاښونو نه د جُدا کیدو] بیماري هم پیدا کیږي، په دې مَرَض کښې په ورو کښې نَو وشي او بیا ترې خطرناکې بیمارئ پیدا کیږي.

## د غاښونو کینسر

د **چائے** او پان عادت لرونکي دې خوراک کمولو سره سره د چائے او پان کمولو سوچ هم جوړ کړي داسې نه چې تاسو په خوراک کښې کمے راولئ او مَکار نفس مو د لوَږې ماتولو په دوکه کښې د چائے او پان د زیات والي په آفت کښې اخته کړي. چائے د گُردو د پاره نقصاني دے. د پان، گُټکا، [ماوا]، مین پوړي، د خوشبودارو کاکو والا سُپاري او د چالیه عادت ختمولو کښې مو خیر دے. ځوک چې دا څیزونه ډیر زیات استعمالوي هغوئي ته **د ورو، خُلې او د مَرئ د کینسر خطره وي**. د زیات پان خوړلو والا خُله د دننه نه سره شي که خُله یې وِینې شي یا پکښې نَو وشي نو هغوئي ته به نه ښکاري او خیتې ته به ځي. ولې چې د یوې مودے پورې نَو کوي خو درد بالکل نه کوي ځکه به شاید هغوئي ته هله معلومیږي چې کله خداناخواسته څه خطرناکه بیماري جړړې پخې کړې وي!

# د جعلي کتَّهے تباهیاني

په **پاکستان** کښې غالِباً د کتَّهے پیداوارنه کیږي، لِهٰذا د دولت حِرص لرونکي چې هغوئي د خپل آخِرت او د بل د دُنیا د **بربادیدو** هیڅ پرواه نه لري، هغوئي په **خاورو** کښې د خرمنې **رنګ** کولو رنګ ګډ کړي او هغه خاوره د **کتَّهے** په نوم خرڅوي او دغسې **پاکستاني پان خواره** غریبانان هغه ګنده خاوره خوري او په قِسما قِسم مَرَضونو کښې اخته کیږي او تباهئ سره **مخامخ** کیږي. د معلوماتو لرلو باوجود **جعلي کتَّهه** بالکل مه استعمالوئ، جعلي کتَّهه خرڅولو والا او پان خرڅولو والا دې د دې کار نه په رښتیاؤ توبه وکړي او قصداً خاوره خوړلو والا دې هم د دې نه بس کړي. د خاورو باره کښې شرعي مسئَله دا ده، "**په معمولي مِقدار کښې خاوره خوړلو کښې باک نشته خود ضرر یعني نقصان ورکوونکي مِقداره پورې خوړل حرام دې**" (رَدُّالْمُحْتَار ج۱ ص۳٤٦، بهارِ شریعت حِصّه۲ ص٦٣)

# د غاښونو وِینې کیدلو اسباب

بعضې خلق چې مِسواک کوي نو خُله یې وِینې کیږي بلکې د داسې خلقو به د خوراک سره خیټې ته هُم وِینه ځي. د دې یو سبب د خیټې خرابي هم ده. داسې مریض ته د قبض عِلاج کول ضروري دي. د درونډ او بادي خوراک نه دې پرهیز کوي او ځان دې پوره نه مړوي، بے وخته دې یو څیز هم نه خوري. بل سبب یې دا دے چې د غاښونو په صفائي کښې د بے پرواهئ په وجه د خوراک ذرَّات د غاښونو او ورو په مینځ کښې جمع شي او د چونے په شان کلک اوګرځي، د ډاکټرانو په ژبه کښې دې ته ټاټر TATAR وائي. ځکه ډاکټر له لاړ شئ که د نیک طبیعت والا ډاکټر وو او څه رُکاوټ نه وو نو په یو وخت کښې به د ټولو غاښونو صفائي (scaling) وکړي. ګنې د ډیرو پیسو وهلو په

چکر کنبي به لړ لړ کار کوي او يو څو پيرې فالتو د تلو راتلو تکليف به درکړي!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د مِسواک څوارلس مَدَني ګلونه

﴿۱﴾ مِسواک د پيلو يا زيتون وغيره تريخ لرګي پکار دے، د مِسواک پيړ والے د کچې ګوتې يعني د وړې ګوتې همره پکار دے ﴿۲﴾ مِسواک چې د يو لويشت نه زيات اوږد نه وي، ځکې په هغې شيطان کښيني ﴿۳﴾ د دې ريشے [يعني برش] نرم پکار دے سختې ريشے د غاښونو او ورو په مينځ کښې د "چاؤ" (GAP) پيدا کيدو باعث جوړيږي. ﴿٤﴾مِسواک که تازه وي نو ډيره ښه ده، او که [تازه] نه وي نو لږ ساعت يې د اوبو په ګلاس کښې کيږدئ چې نرم شي ﴿۵﴾ د طبيبانو مشوره ده چې د دې برش هره ورځ پريکوئ ځکه چې د دې برش د هغې پورې د کار دے ترڅو چې په دې کښې تريخ والے پاتې وي ﴿٦﴾ د غاښونو په پلن والي کښې مِسواک کوئ ﴿۷﴾ چې کله هم مِسواک کوئ کم نه کم درې ځله يې کوئ او هر ځل يې وينځئ ﴿۸﴾ مِسواک په ښي لاس کښې داسې نيسئ چې کچې ګوته ترې لاندې، د مينځ درې ګوتې پرې د پاسه وي او غټه ګوته يې په سر [د برش سره] وي، اول د ښي طرف په پاسني غاښونو کښې، بيا د ګڅ طرف په پاسني غاښونو کښې، بيا د ښي طرف په لاندِيني غاښونو کښې او بيا د ګڅ طرف په لاندِيني غاښونو کښې مِسواک کوئ ﴿۹﴾ په ملاسته چې شا لګيدلې وي مِسواک کول د تورې د غټيدو او ﴿۱۰﴾ مِسواک په موټې کښې د نيولو سره په مِسواک کولو کښې د بواسيرو کيدو خطره ده ﴿۱۱﴾ مِسواک د اودس سُنّتِ قبلِيّه دے (يعني مسواک د اودس نه مخکښې کول سنّت دي، په اودس کښې دننه والا سنّت نه دي لهٰذا اودس شروع کولو نه

مخکښې مسواک کوئ، بیا درې درې ځله دواړه لاسونه وینځئ او د طریقے مطابق اودس مکمّل کړئ) البَتَّه سُنَّتِ مُؤَکَّده هغه وخت دے چې په خُله کښې بدبوئ وي. (ماخوذازفتاوىٰ رَضَوِيّه ج١ ص ٢٢٣)

## د ښځو د پاره مسواک کول د بي بي عائشه سُنّت دي

﴿١٢﴾ "ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت" کښې دي چې "د ښځو د پاره مِسواک کول د اُمُّ المؤمنين حضرتِ عائشه صِدیقه رَضِیَ اللہُ عَنۡہا سُنَّت دي خو که وه یې نکړي نو باک نشته. د دوئي غاښونه او ورئ د سړو په نسبت کمزوري وي، دوئي د پاره دنداسه کافي دہ."

(ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، ص 357)

## چې کله مِسواک د اِستِعمال قابل پاتي نه شي

﴿١٣﴾ مِسواک چې کله د استعمال قابِل پاتې نه شي نو غورزَوئ یې مه، ځکه چې دا د سُنَّت ادا کولو آله ده، چرته یې په اِحتیاط سره کیږدئ یا یې خخ کړئ، یا یې په سمندر کښې واچوئ. (د تفصیلي معلوماتو حاصلولو د پاره د مکتبةُ المَدینه مطبوعه بهارِشریعت جلداوّل حصّه ٢ ص ٢٩٤ نه ٢٩٥ پورې ولولئ)

## آیا تاسو ته مِسواک کول زده دي؟

﴿١٤﴾ کیدے شي چه ستاسو په زړه کښې دا خیال راشي چه زه خو د کلونو نه **مِسواک** کووم خو زما غاښونه او خیټه دواړه خراب دي! زما ساده اسلامي ورروه! په دې کښې د **مِسواک** نه بلکې ستا خپل قصور دے. زه (سگِ مدینه عُفِیَ عَنۡہُ) په دې نتیجه رسیدلے یم چې نن به شاید په زرګاؤ خلقو کښې یو نیم کس داسې وي چه هغه به د صحیح اُصولو مطابق **مِسواک** استعمالوي، مونږه اکثر زر زر په غاښونو پورې **مسواک**

اُومږو او اودس وکړو روان شو يعني مطلب دا چې مونږه **مِسواک** نه کوو بلکه "د **مِسواک** رسم" ادا کوو!

## د غاښونو د حِفاظت د پاره شلور مَدَني ګلونه

﴿۱﴾ د څه خوړلو يا چائے وغيره څښلو نه پس درې ځله داسې خُله وِينځئ چې هره پيره اوبه په خُله کښې يو مِنټ نِيم ښې اړوئ را اړوئ او بيا يــې توک کړئ ﴿۲﴾ چې کله هم موقع وي په خُله کښې اوبه اچوئ او د يو څو مِنَټه د پاره يــې په خُله کښې اړوئ را اړوئ بيا يــې توک کړئ. دا عمل هره ورځ په مختلفو وختونو کښې يو څو ځله کوئ ﴿۳﴾ که په بيان کړے شوې طريقه د خُلې وِينځلو د پاره د ساده اوبو په ځائے مالګينې اوبه استعمال کړے شي نو زيات فائِده مند به وي. که پابندئ سره داسې کوئ نو اِنۡ شَآءَاللّٰه د غاښونو په مينځ کښې نخښتې د خوراک ذرّے به په وِينځلو وِينځلو لرې کيږي او په ورو کښې به نه نخښلې، دغسې به د سخا کيدو نه په حِفاظت کښې وي. اِنۡ شَآءَاللّٰه داسې کولو سره به د ورو وِيني کيدو شکايت هم نه پيښيږي ﴿٤﴾ د زيتون شريف تيل په غاښونو باندې مږلو سره ورئ او ږقيدلي غاښونه مضبوطيږي.

## د خُلې د بدبوئي عِلاج

که د چا خُله بد بوئي کوي نو شنه دنيا دې وجووي د دې نه علاوه د ګُلاب دګلونو تازه يا وَچې شوې پاڼې غاښونو پورې مږلو سره به هم اِنۡ شَآءَاللّٰه بوئي لرې شي. خو که د خيټې د خرابئ په وجه بدبوئي راځي نو کـم خوراک کوئ او د لوَږې د بَرَکتونو حاصِلولو سره به اِنۡ شَآءَاللّٰه د ښيپو او د بدن د مختلفو حِصّو د درد، قبض، د معدے سوزيدلو، د خُلې پخيدلو، ټوخې، زر زر نزله زُکام کيدلو، د مرئ درد نه او د ورئ وِيني کيدلو وغيره ډيرو

مَرَضونو نه خلاصے اوموميئ. د ځان نه مَرَولو په بَرَکت د اتيا فِيصده مَرَضونو نه حفاظت کيدے شي. (د تفصِيلي معلوماتو د پاره د فيضانِ سُنَّت باب ”د خيټې قُفلِ مدينه ولولئ) که د نفس د حِرص عِلاج اوشي نو ډير مَرَضونه به ېخپله ختم شي.

رضاؔ نفس دشمن ہے دم میں نہ آنا　　کہاں تم نے دیکھے ہیں چندرانے والے

(حدائقِ بخشش شریف، ص159)

رضا نفس دُښمن دے په دوکه کښې مه راځه
تا چرته دي ليدلي داسې غټ غټ دوکه باز

## د خُلې د بدبوئې عِلاج

دا درود شريف په موقع موقع په يوه ساه کښې يولس ځله لولئ اِنۡ شَآءَالله د خُلې بدبوئي به مو ختمه شي. ﴿اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمۡ عَلَى النَّبِيِّ الطَّاهِرِ﴾

## په يوه ساه کښې د وئيلو طريقه

په يوه ساه کښې د وئيلو بهتره طريقه دا ده چې خُله بنده کړئ او په قلاره قلاره په پوزه ساه اغستل شروع کړئ او چې څومره کيدے شي هغه همره هوا په سږګي [يعني پهيپړو] کښې جمع کړئ او بيا درود شريف لوستل شروع کړئ. چې يو څو ځله داسې مشق وکړئ نو د ساه ماتيدو نه مخکښې مخکښې به اِنۡ شَآءَالله د يولس ځله وئيلو ترکيب جوړ شي. په دې بيان شوې طريقه چې په پوزه باندې ښه خخه ساه واغستے شي او څومره کيدے شي حِصاره کړے شي او د هغې نه پس په خُله خارِجه کړے شي نو دا د صِحت د پاره ډير زيات فائِده مند دي. په تولو ورځ کښې چې کله موقع وي خاص طور په ښکاره هوا کښې هره ورځ يو څو ځله داسې کول پکار دي. ما ته (يعني سګِ مدينه عُفِیَ

عَنۡهُ) ته يو بُوډا حکيم صاحِب وئيلي وو چې زه ساه واخلم او د نيمې ګينټې (يا يې وئيلي وو چې د) دوه ګينټو پورې هوا دننه حصاره کړم او په دې دوران کښې خپلې وظيفے وغيره هم لوستلے شم. د هغه حکيم صاحِب د وينا مطابق په دُنيا کښې د ساه حصارولو داسې داسې ماهران هم وي چې سحر ساه واخلي نو ماښام يې اوباسي!

## پينځه خوشبوداره خُلې

د **سرکارِ مدينه** صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يوه عظيمه مُعجِزه اوګورئ چې د هغې په بَرَکت د پينځه خوش نصيبو صحابياتو رَضِيَ اللهُ عَنۡهُنَّ خُلې د هميشه د پاره خوشبوداره شوې. چنانچه حضرتِ سَيِّدَتُنَا عُمَيره بِنتِ مسعُود انصارِيَّه رَضِيَ اللهُ عَنۡهَا فرمائي چې مونږه پينځه خويندې د **حُضُورِ اکرم** صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې د بَيعت د پاره حاضرې شو. حُضُورِ اقدس صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په هغه وخت **قَدِيد** (يعني وچه کړے شوې غوښه) خوړله. حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قَدِيد يوه ټُکړه **وجُووله** اونرمه يې کړه او مونږ ته يې راکړه نو مونږ هرې يوې لږه لږه وخوړله (د هغې په بَرَکت) د مرګ د ساعته پورې زمونږه د خُلو نه هميشه خوشبو راتلله. (اَلۡخَصَائِصُ الۡکُبۡرٰی ج۱ ص۱۰۵)

## په شيبو باران

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د دعوتِ اسلامي **دِيني ماحول** سره خپل تړون هر وخت مضبوط ساتئ، د سُنّتو ډکه اِجتِماع کښې شِرکت کوئ. اِنۡ شَآءَالله د آخِرت بيشميره خيرونه به مو نصيب شي بلکې دُنياوي پريشانئ به مو هم لرې شي او د عاشِقانِ رسول په نزديکت به مو اِنۡ شَآءَالله دُعاګانې هم قبليږي، دا**امِيرُالۡمُؤمِنِين** حضرتِ سيِّدُنا عِلِيُّ الۡمُرتَضیٰ رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ نه رِوايت دے چې **مَکي مَدَني سرکار** صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے

دے: اَلدُّعَاءُ سِلَاحُ الْمُؤْمِنِ، وَعِمَادُ الدِّيْنِ، وَنُوْرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ (مُسنَد اَبِی یَعلٰی ج۱ ص۲۱۵ حدیث۴۳۵) **يعني** دُعا د مُؤمِن وَسله ده او د دِين ستن ده او د زمکې او آسمان نُور دے.'' خاص طور په سفر کښې دُعا نه رد کيږي او که د عاشِقانِ رَسُول **مَدَني قافِله** وي نو بيا خو به څه وائې! چنانچه د دعوتِ اسلامي د **عاشقانِ رَسُول** د سُنَّتو د تربِيَّت يوه مَدَني قافِله **نِکيال** (کشمير، پاکستان) کښې په سفر وه. د هغه ځائے اوسيدونکو خلقو د دُعا درخواست وکړو چې د نِکيال مسلمانان د ډيرې مودے نه د باران د رَحمت نه **محرومه** دي. چنانچه مَدَني قافِلے والؤ د **اِجتِماعي دُعا** ترکيب جوړکړو. په دُعا کښې د نِکيال ډير مسلمانان شريک شول، ورځ وه او نمر راختلے وو، عاشِقانِ رسول په ژړا او زارو زارو دُعا شروع کړه، **اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! په لږ ساعت کښې د رَحمت درنې وريَځې خورې شوې او په شيبو باران شروع شو!** د خوشحالۍ نعرے پورته شوې او خلق په باران کښې لامده قِيشته شول، د حاضرو خلقو په زړونو کښې د **دعوتِ اسلامي محبَّت** او د مَدَني قافِلے د **عاشِقانِ رَسُول** ډير زيات عقيدت پيدا شو. په دعوتِ اِسلامي والؤ باندې د **الله** پاک دا عظِيم کرم يے چې په ښکاره سترګو وليدو نو ډير اسلامي ورونړه د **دعوتِ اِسلامي** دِيني ماحول کښې شامِل شو او په **نِکيال** کښې د دعوتِ اِسلامي مَدَني کارونه تيز شو.

قافِلہ میں ذرا، مانگو آکر دعاء | ہوں گی خوب بارشیں قافِلے میں چلو
عاشِقانِ رسول لے لو جو کچھ بھی پھول | تم کو سنّت کے دیں قافِلے میں چلو

قافِله کښې اوغواړه، څه چې غواړې دُعا | وبه شي ډير بارانونه قافِلو کښې لاړ شئ
له عاشقانِ رَسُول، نه يے کړه ته قبول | د سُنَّتو ډير ګُلونه قافِلو کښې لاړ شئ

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

د راروانې هفتې رساله




فيضانِ مدينه محلّه سوداګران، زړه سبزي منډۍ کراچۍ
UAN +92 21 111 25 26 92  0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net